دهجات شهادت ...
چهارصفحه
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
نمبرمسلسل (۱۲۲۲) سال نزدهم شماره (۱۳۱) سه شنبه (۲۷) سنبله ۱۳۷۵ هـ ش (۵) جمادی الاول ۱۴۱۷ هـ ق (۱۷) سپتمبر ۱۹۹۶م

دکونړ دجهادی شوری اعلامیه

که طالبان په کونړ حمله وکړی غاښ ماتوونکی ځواب به ووینی

دکونړ جهادی شوری په اخلاص اوصداقت له خپلې سیمې نه دفاع کوی

خپل دفاعی ځواک ته مو قومانده ورکړی چی دښمن ته لوی ګذار ورکړی

اسعد آباد – دوزې ۲۶ مه :
دروان کال دوزې دمباشتې په ۲۵ مه نېټه دیکشنبې په ورځ دکنړولایت جهادي شورا دنوموړي ولایت په مرکز اسعدآباد ښارګي یوه درنده اوږیکنده غونده وکړه په غونډه کې چې په کنړکې دبېلابېلو جهادي تنظیمونو او قومونو علماوو، جهادي قوماندانانو اوقومي مشرانو برخه اخستې وه دقرآن عظیم الشان دځومبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه . وروسته دغونډې برخوالو په مشرقي ولایتونو کې دوروستیو بدلونونو په باب هراړخیزې وېناوې وکړې اوبرخوال ئې دجهاني استکبار دتوطیو دختښي کولو په باب خپلو مسئولیتونو ته متوجه کړل .
له کنړولایت څخه دکنړ دجهادي شورا یوې منبع په خپل مخابروي تماس کي پرون مازدیګرشهادت ته وویل داغونډه چې څلور ساعته یې دوام وکړ په آخرکي دیوې ګډې اعلامیې په صادرولو چې مهم ټکي ئې دادي :
الف : کنړ مجاهدینوآزاد کړي دمجاهدینو کوردي مجاهدقیادت منې .
ب : که چیرې طالبان په کنړولایت دحملې هڅه وکړي غاښ ماتونکي ځواب به ووینې .

پاتې ،،٤،، مخ ،،۲،، ستون

الهی لاربوونی

همغه ته بلنه ورکول حق دی . پاتې شوی هغه نوری هستی چی دوی ورته له هغه پرته بلنه ورکوی ، هغوی د دوی ددعاګانوهیڅ ځواب نشی ورکولی . هغه ته بلنه ورکول خو داسی دی کله څوک چی اوبو ته لاس اوږد کړی او ورته وغواړی چی راشی ژماخولی ته ، پداسی حال کی چی او به هغه ته رسیدونکی ندی . کښتې همدغه شان د کافرانو دعاګانی هم هیڅ شی ندی مګربو بی هدفه فیردی ، هغه خو الله دی چی هغه ته دځمکی او آسمان هرشی که خوښ وی که ناخوښ سجده کوی او د ټولو شیانو سیوری سهار او ماښام د هغه په وړاندی ټیټیږی .
(الرعد -۱٤-۱٥)

په تاشکندکی دیوی مهمی معاهدی دلاسلیك احتمال

له شمال نه دوه زره وسله وال کسان کابل ته رارسیږی

دهماهنګی شورئ ځینی غړی هم په تاشکند کی دی

دافغانستان دحالاتو په باره کی دتهران اوانقری ترمنځ هم خبری روانی دی

جنرال دوستم ته دجمهوری ریاست مرستیالی اودفاع وزارت ورکول کیدای شی

اسلام آباد – دوزې ۲۶ مه :
پرون یوې باوري منبع « شهادت» ته وویل چې « سبا (نن) دازبکستان په پایتخت تاشکند کې دافغانستان داسلامي دولت اوجنبش ملي اسلامي ترمنځ دیوې مهمې معاهدي دلاسلیک قوي احتمال دی» . منبع زیاته کړه چې له څوموړي راهیسې ددولت اوجنبش ترمنځ مذاکرات روان و خو چې کله دهیواد دختیځو ولایتونو پیښې واقع شوې نودخبرواترو لړۍ دیره جدي اوتوده شوه اوله څو ورځو راهیسي کله په مزاراو کله په تاشکند کې په پرله پسې توګه غونډې کېږي . منبع زیاته کړه چې په یقین سره نشي ویلای چې آیامعاهده به اعلان هم نن شي اوکه به ئي اعلان بل وخت دنورو مراسمو په ترځ کې وشي .
منبع څرګنده کړه چې ددې معاهدي

پاتې ،،٤،، مخ ،،٤،، ستون

دملګروملتونو په عمومي اسامبله کی ګډون کوونکی هیئات له ورورحکمتیار سره وکتل

کابل – دوزې ۲٦ مه :
دهیواد صدراعظم وروور حکمتیار پرون له غرمي مخکي دملګروملتونو په عمومي اسامبله کي ګډون کوونکي هیئات خپل حضورته ومانه .
دعظمي صدارت دمطبوعاتي دفتر دخبر په حواله ویل کیږي چې : ددغې کتنې په ترځ کې دبهرنیو چارو دوزارت مرستیال عبدالرحیم «غفورزي» چې دنوموړي افغاني هیئات مشري په غاړه لري دهیئات دکاریه اړه وروور حکمتیار ته څرګندونې وکړي .

دنغلو له فابریکی څخه کابل ته برېښنا فعاله شوه

کابل – دوزې ۲٦ مه :
له اوږدي مودي څخه وروسته کابل ښار ته دنغلو برېښنا دفابریکي څخه دبرېښنا جریان دیولړمراسمو په ترځ کې پیل شو .
دباختر داطلاعاتي اژانس دورکړل شوي خبر په حواله ویل کیږي چې : پرون له غرمي وروسته په څلورو بجو اوډیرشو دقیقو دنغلو له فابریکې څخه کابل ښارته بوځل بیا برېښنا ورکړل شوه .
خبرزیاتوي چې : دنغلو دفابریکې دبرېښنا څلورواره توربینونه فعال شوي او ٦۰ میګاواټه برېښنا تولیدوي چې د (۷۰۰۰۰) کیلوواټه برېښنا ظرفیت لري . دهغومراسمو په ترځ کې چې دهمدې امله جوړشوي وو داوبو اوبرېښنا وزیر انجنیر محمدایوب د نغلو دبرېښنا دټولو انجنیرانو او کار کوونکو څخه مننه وکړه اودهغوی هلوځلو ته ئې وستایلې .

دغزنی په بالاحصار کی دطالبانو دمهماتو یوه لویه ډیپو وچاودیده

غزني – دوزې ۲٦ مه :
دغزني ولایت په بالاحصارکي دطالبانو دمهماتو یوه لویه ډیپو وچاودیده
دباختر داطلاعاتي آژانس درپوټ له مخي دوږمه ورځ دغزني په بالاحصار کې دطالبانو دمهماتو یوه لویه ډیپو چې بې شمیره وسلې اودوسلو ګولې پکې ځای پرځای شوي وې وچاودیده .
منبع وویل چې داچاودنه دطالبانو

پاتې ،،٤،، مخ ،،۲۰،، ستون

دطالبانو په توغندیو (٤) کسه کابل ښاریان شهیدان شول

کابل – دوزې ۲٦ مه :
دطالبانو په توغندیو ٤ تنه کابل ښاریان شهیدان او ۳ کسه نور ټپیان شول
دباختر داطلاعاتي آژانس درپوټ له مخي طالبانو پرون بوځل بیا دکابل ښار د٦ مې او ۷ مې ناحیې داستوګني سیمې ترتوغندیو بریدونو لاندې ونیولې چې په نتیجه کې ٤ کسه کابل ښاریان شهیدان او ۳ کسه نورټپیان شول .

دروانو حالاتو په باب داتحاداسلامی دتنظیم دریځ

پیښور – دوزې ۲٦ مه :
پرون دافغانستان د اسلامي اتحاد دعالي شوري غړي قوماندان توریالي «همت» شهادت ته وویل چې داتحاد مشر استاد «سیاف» ده ته دمخابري په وسیله دخپل تنظیم رسمي دریځ په دې ډول توضیح کړ :
«مسلمان افغان ولس به نه یوازي ظاهرشاه بلکي هرهغه قیادت اوهرهغه شخص ونه مني چې مقدس اسلامي جهاد کي ئي عملي برخه نه وي اخیستې، له مجاهدینواومسلمانانو سره یې دښمنۍ اوعداوت کړي وي، له روسانو اوکمونستانو سره یې عملاً یا قولاً مرسته اوهمکاري کړي وي، دمسلمانانو په وینو یې لاسونه ککړوي، له اسلام

پاتې ،،٤،، مخ ،،۲،، ستون

طالبان نقش میانجیگرانه ایران رادر قبال حل بحران افغانستان رد کرده است

پشاور – ۲٦ سنبله :
گروه طالبان نقش میانجیگرانه ایران را درقبال حل بحران افغانستان وهمچنان شرکت در کنفرانس منطقوي درتهران را رد کرده وایران را متهم به حمایت ازدولت اسلامي افغانستان نموده است .
طبق گزارش ... جنگ مولوي وکیل احمد سخنگوي طالبان گفته است که مقامات رهبري طالبان درقندهار به مرتضي « سرمدي » معاون وزارت خارجه

بقیه درستون ،،٤،، صفحه ،،٤،،

معاون وزارت خارجه ایران بارهبر جنبش دیدارکرد

ایران از ادامه جنگ درافغانستان نگران میباشد

بروجردی

باگشایش شاهراه سالنگ جنبش ملی حسن نیت خود را درحل بحران افغانستان به اثبات رسانده است

جنرال دوستم

مزارشریف – ۲٦ سنبله :
علاؤالدین بروجردي معاون آسیا واقیانوسیه وزارت خارجه ایران باجنرال عبدالرشید دوستم رهبر جنبش ملي درشهرمزارشریف دیدار وگفتگو نمود .
طبق گزارش منابع خبري آقاي بروجردي دراین دیدارنگراني دولت متبوعش را ازادامه جنگ درافغانستان ابرازداشته گفت : ایران خواهان مذاکره وصلح درافغانستان است وبه تلاش خود جهت خاتمه دادن به رنج هاي مردم مظلوم

بقیه درستون ،،٦،، صفحه ،،٤،،

خیرخواه سفیردولت اسلامی درتهران :

جناح هاي که گوشه نشینی اختیار مینمایند به سرنوشت اعضای شورای ننگرهار مواجه خواهندشد

طرفداران صلح برطرفداران جنگ پیروز می شوند

ظاهرشاه نمی تواند نقشی درافغانستان داشته باشد

تهران – ۲٦ سنبله :
خیرخواه سفیر دولت اسلامي افغانستان درتهران پیرامون اوضاع جاري کشور وبخصوص تحولات اخیر درشرق افغانستان مصاحبه ئي باراديو ايران انجام داده است که طي آن دراولین پاسخ به این پرسش که آیامیتوانیم بگوییم حاجي عبدالقدیر درامرتصرف جلال آباد ازجانب طالبان باآن گروه همکاري کرده است گفت : ما دقیقاً دراین مورد معلوماتي نداریم ولي مقاومتي دران شهرصورت نگرفت ، حاجي عبدالقدیر شهررا ترك گفت وبه پشاور رفت ، اینکه چگونه شهررا ترك گفت وچگونه به انجارسید گذشت زمان

بقیه درستون ،،۱،، صفحه ،،٤،،

انجنیرمسعود وگولدنګ باهم دیدارکردند

کابل – ۲٦ سنبله :
گولدنگ معاون سیاسي بطروس غالي سرمنشي عمومي سازمان ملل متحد باانجنیراحمدشاه « مسعود » عضوشوراي عالي دولت اسلامي افغانستان دیدارنمود .
رادیوکابل گزارش داد دراین دیدار دوکتور ناربرت هول نماینده جدید سازمان ملل متحد نیز حضورداشت.راجع به

بقیه درستون ،،٤،، صفحه ،،٤،،

بعداز سقوط جلال آباد قیم اجناس خارجی در بازار باره بالارفت

جمرود – ۲٦ سنبله :
بعداز سقوط جلال آباد بدست طالبان وبند شدن میدان هوایي این شهر ، قیم اجناس خارجي در بازار باره افزایش یافت.
به گزارش روزنامه نیوز خبرهاي رسیده از سرحدات میان افغانستان وپاکستان حاکیست اجناس خارجي که ازامارات متحده عربي (دوبي) بوسیله طیارات به جلال آباد انتقال مي یافت واز

بقیه درستون ،،۳،، صفحه ،،٤،،

مسلمانان انتخابات کشمیر راتحریم کردند

سرینگر – ۲٦ سنبله :
یك اعتصاب دو روزه در وادي کشمیر اشغالي زندگي روزمره درشهر سرینگر را کاملاً فلج ساخت .
این اعتصاب که بنابر تقاضاي احزاب اسلامي کشمیراشغالي به عنوان احتجاج علیه انتخابات نامنهاد دروادي کشمیر براه انداخته شده بود ، مسلمانان باردیگر مقاطعه خودرا باتدویر انتخابات درماتیك اعلان داشته وآن رامحکوم کردند .
جاوید احمد میریکتن ازرهبران مسلمانان کشمیري که مظاهرات احتجاجي را رهبري مي کرد گفته است که تدویرانتخابات ازجانب نماینده گان هند، هیچ گونه تاثیري برروحیه مسلمانان نداشته ، بلکه عزم آنهارا برضد متجاوزین

بقیه درستون ،،٤،، صفحه ،،٤،،

استاد سیاف شهادت قوماندانان ننګرهار راتوطیه دشمنان اسلام خواند

پشاور – ۲٦ سنبله :
استاد عبدرب الرسول «سیاف» عضوشوراي عالي دولت ورهبراتحاد اسلامي افغانستان نسبت به شهادت عده اي از قوماندانان جهادي درولایت ننگرهار ، تاثرات عمیق خویش را ابراز داشته است .

بقیه درستون ،،۳،، صفحه ،،٤،،

قوماندانان بابرگشت ظاهرشاه مخالفت کردند

کابل – ۲٦ سنبله :
قوماندانان جهادي ولایت کابل بابرگشت ظاهرشاه در صحنه سیاسي افغانستان مخالفت نموده اند .
قوماندانان جهادي ولایت کابل با انتشار اعلامیه مشترك ، موضوع بازگشت شاه سابق رایکي ازدسایس ازقبل طرح شده دشمنان اسلام وجهاد توصیف کرده اند .

بقیه درستون ،،٥،، صفحه ،،٤،،

برنامه ظاهرشاه وطالبان توام است
وقتی ظاهرشاه ونظام ظاهرشاه مطابق خواست غرب است ، وقتی غرب جانبدار شد، وقتی نقطه آغازیکی شد، باید طالب کنار برود

ظاهرشاه وطالبان

* درسرمقاله مطالعه بفرمائید

په F-14 D تامکت دوله جنګی الوتکه دامریکادکارل وینسن نومی الوتکه وړونکی بېړۍ څخه په جنوبی عراق کی د الوتنی د ممنوعه سیمی دپاسه دماموریت داجرا له پاره الوتنه کوی.

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

درامهٔ غم انگیز و جالب !
برنامه طوري است که طالبان را میخواهند جاده صاف کن نظام طرف اعتماد غرب بسازند وملامحمد عمر را فداي ظاهرشاه نمایند

گفته شده که یك هیئت امریکایي تحت ریاست و زلمي خلیل زاد ، مشاورکاخ سفید درامورافغانستان وارد اسلام آباد شده ووظیفه دارد تاشرایط ، اوضاع وامکانات آمدن ظاهرشاه را به افغانستان مطالعه نماید .

اگرچه اینطور تبلیغ میشود که یاد آوري اسم ظاهرشاه درحلقه هاي امریکایي به سلیقه هاي افراد وارباب احزاب تعلق میگیرد وتاحال ازطرف حکومت امریکا درین زمینه اقدام مشخص ومعلوم صورت نگرفته ولي دیگراین مسئله تقریباً غیرقابل انکارشده که طرح ظاهرشاه درمسایل روز جزء سرگرمي هاي رسمي امریکاقرارگرفته وامریکا پس ازیك عصرطولاني به این معترف شده که بدیلي مناسبترازظاهرشاه پیدانمیکند که براي حل قضیه افغانستان روي اوتکیه نماید .

دراینکه غربي ها وبرخي دیگر از کشورهاي ذیدخل وذیعلاقه به نقش ظاهرشاه بیش ازهروقت دیگر متوجه میشوند ابهامي وجود ندارد ، ابهام اصلي روي وارد صحنه ساختن ظاهرشاه مي باشد. اول این که چگونه میشود بین ظاهرشاه وقدرتهاي مطرح وحاضر در صحنه افغانستان اشتراك وامتزاج آورد .

اشغال ناگهاني جلال آباد بدست طالبان که روز چهارشنبه ۲۱ سنبله صورت گرفت اسم ظاهرشاه راگرمترساخت تاجایي که نماینده وپاسخنگوي ظاهرشاه باصداي رساتر وروشنتر ازگذشته بانك برآورد وامکانات تشریف آوري وقدم رنجه کردن ظاهرشاه را به کشورنزدیکتر نشان داد . بالاگرفتن حساسیت ظاهرشاه وهواداران ظاهرشاه درقبال پیشروي طالبان درجلال آباد ویك سلسله فعالیت ها وروابط زنجیره ئي که قبل از این در محورقضیه ظاهرشاه صورت گرفته ، هماهنگي وتلفیق طالبان وظاهرشاه را نزد مردم واضح کرد .

اگرچه نطاقان طالبان باربار ازقضیه ظاهرشاه تقریباً غیرجانبدارگذشته و به کلاه مردم نیز « پرزده » وگفته اند که درمورد قبولي ویا رد ظاهرشاه باید مردم افغانستان فیصله بکنند. حتي دراین اواخر چنانکه ازقول امیرخان متقي درجریده شریعت ۲٦ سنبله نوشتند اتفاق مردم افغانستان بالاي ظاهرشاه مجهول ولي بالاي امیرالمومنین ملامحمدعمر روشن مي باشد ولي همه تقریباً درین اتفاق نظر دارند وبه این فیصله رسیده اند که منابع خط دهنده وپاري دهنده طالبان وظاهرشاه یك منبع ویك چینل مي باشد. هر دومقصد کنارزدن مجاهدین فعالیت میکنند وهردو به این مقصد پشتیباني میشود که نظام آینده افغانستان یك نظام مطابق به ایده آل غرب وامریکا باشد .

البته قبول این مسئله که تحریك طالبان درمنشأ ومرام بابرنامه طرح ظاهرشاه توأم مي باشد ، براي اکثریت طالبان وخاصه آنهائیکه بااحساس پاك ومرام اسلامي وارد این جریان شده اند خیلي سنگین وغیرقابل قبول مي باشد واین مسئله را بقوت رد مینمایند ولي باقبول تلخي این حقیقت ، جریان طوري آمده که گروه طالبان شکار توطیه هاي استکبار قرارگرفته ونخواهي نخواهي درجریاني قرارگرفته که استکبار دریك چتر وسیع وبه سویه ملي وبین المللي علیه بنیادگراها علیه اخواني ها ودرمجموع علیه نهضت جهان اسلام پهن کرده است .

سوال اصلي این است وقتي برنامه ظاهرشاه وجنبش طالبان توأم میشود تفاوت وتغییر خواست ها ، شعارها ومواضع هردو چگونه حل میشود ، چطورممکن است کسیکه شریعت میخواهد ، کسیکه حکومت اسلامي میخواهد ، باکسیکه ناموس غرب شالوده ، مفکوره او ونظام اورا ساخته ، دریك تشکیلات ودریك اداره دورهم بیاید . چطور امکان دارد کسیکه طالب حجاب ومعاشره اسلامي است باگروهي یکجاشود وائتلاف نماید که ازثقافت بیماروغربزده متاثرمي باشد . وبه این ترتیب چگونه امکان دارد یك امیرالمومنین ویك شاه که آنهم المتوکل علي الله ! مي باشد باهم دریك اقلیم جوربیایند وهردو دریك زمان امارت وحکومت خودرا جاري نمایند .

این تلفیق ناممکن است یکي باید کناربرود ، یکي باید حوصله فراخ داشته باشد ، یکي باید عقب نشیني کند.

واضح است که طبیعت هردو ازهم متفاوت است وعقب نشیني متواضعیانه واختیاري هم زماني بوجود مي آید که اشتراك فکري وسلیقوي درمیان باشد .

به این حساب ، عقب نشیني باید جبري باشد وکسي مجبوربه عقب نشیني مي شود که درنقطه بیروني وجایي که گفتم محل ومنشا حمایت وتمویل است پایگاه وپشتیبان داشته باشد ، و معلوم است که ظاهرشاه ونظام ظاهرشاه مطابق خواست غرب است ، وقتي غرب جانبدارشد باید طالب ضرور عقب برود وامیرالمومنین به کنارکشیده شود ، این برنامه عملي نمیشود مگراینکه امیرالمومنین ترور فزیکي شود وجان به جان آفرین بسپارد .

بااینحال برنامه غرب که درمحور ظاهرشاه فعلاً ازآن صحبت میشود به آن اندازه که براي طالبان خطرناك است براي تنظیم ها وگروه هاي جهادي خطرناك نیست.

طالبان بااین سیاست هاي موسومي کف روي آب اند، جوش دارند ومتاسفانه جایگاهي ندارند . برنامه شکلي است که طالبان رامیخواهند مثل یك تراکتور وجاده صاف کن درخدمت نظام طرف اعتماد غرب قراربدهند وملامحمد عمر را قرباني وفداي ظاهرشاه ویا قرباني فردي بسازند که به سلیقه وخواست غربي ها برابري داشته باشد.

درهرحال ، غرب برنامه جالب ولي غم انگیزوتراژیك راتهیه دیده ، صحنه طولاني ومفصل است وهنوز مادرآغاز نمایشنامه قرارداریم اما دعامیکنیم تاپرده پائین بیفتد طالبان بیدار شوند وازاین نقش منفي وضد جهادي صرف نظرنمایند .

افغانان دګومې ګناه سزا وینې ؟

عبید "صافي"

دا حقیقت باید هرومرو ومنلی شی چی دافغانستان مجاهد او غیرتی ولس په یو خطرناك او سخت وخت کی چی دامریکا په شمول ډېر هیوادونه دروس ترنظریاتی اویوځی یرغل لاندی راغلی وو دیوفولادی دیوال په توګه دروسانو مخی ته ودرید ، نه یوازی خپل هیواد یی ترینه آزاد کړ بلکی شاوخوا پراته هیوادونه چی په مستقیم ډول دروس د یوځی سیلاب په وړاندی پراته وو له تباهی اونابودی نه وساتل ، پدی کی هیڅ شك نشته چی افغانانو دغه خړ سیلاب دلکونو ککرو په قربانیوتم کړی او ډېری تودی سری یی ژغملی دی ، ټولی دنیا هسدا خبره کوله چی که په افغانستان کی دروسی سور سیلاب مخه دافغانستان په اوچتو اودنګو غرونو کی ونه نیول شی نو بیا داسی هیڅ قوت نشته چی ددی سیلاب مخی ته بند وتړی ، دامریکا څنګ ته نژدی کیوبا او السلوادور کی دکمونیزم نظریه حاکمه وه اودروس یوځی اډی فعالی وی ، اروپاهم دکمونیزم اودروس پراختیاغوښتنی ترضربی لاندی راغلی وه ، په پولنډ اوختیځ جرمنی کی روسانو بشپړ تسلط درلود او لدی ځای نه یی ټوله اروپاتر خپلی پراختیایی غوښتنی شومی نقشی لاندی راوستی وه ، لنډه داچی ګرده نړۍ دروس دسری امپراتورۍ له شرارت نه په ویره کی وه او دا احساس یی کاوه چی یونه یو ورځ به دروس دغه په تیزی سره روان خړ سیلاب کی لاهو شی ، لیکن په داسی یو پریشان اوبوګنوونکی وخت کی

افغانانو دنیا ته دآرام اوسکون ساه اخیستو ته فضا برابره کړه اودروس غوندی دلوی ښامارله خولی نه یی نجات ورکړ ، که افغانان دروس دخړ سیلاب په وړاندی دسکندری سد (دیوال) په جوړولو کی ناکام شوی وای نو خدای خبرچی تر اوسه پوری به څومره هیوادونه دغه په وړاندی لاهو شوي وو ، په خاصه توګه هغه هیوادونه خو به چی دافغانستان پولوته نژدی پراته دی خپل دآزادی نعمت خامخا له لاسه ورکړی ؤ ، خو ډېر افسوس چی د نړۍ هیوادونو په خاصه توګه ګاونډیو هیوادونو دافغانانو د ومره لوی احسان نه په درنښت ونه کتل ، ددی پرځای چی دغه قهرمان او محسن ولس سره اخلاص اومرسته وکړی ! ددوی په منځ کی یی دافتراق ، عداوت اودښمنی اور بل کړ. داسی یوهیواد چی لویشت لویشت ځمکه یی دهیوادنو ، دتوپونو اوراکټونو په مرمیو سوری سوری او ټول افغانستان په هدیره بدل شوی ؤ دبیا رغاونی او سمسور کولو لپاره دمرستی لاسونه اوږده کړی وای برخلاف دلاورانولو او پرزخمی زړونو دمالګی دوړولو لپاره یی ملاوتړله ، ددی پرځای چی دافغانستان ټولو تنظیمونو ،قومونواو اوولسونو ترمنځ دیووالی او پیوستون په خاطر خپل مثبت اثر

اورسوخ استعمال کړی وای ، دخپلو ذاتی ګټو په خاطر یی ددوی ترمنځ دجنګ جګړی اوربلولو لپاره لاره هواره کړه ، هر څوك پدی ښه پوهېږی چی په افغانستان کی دننه څومره جنګونه ، قتلونه او ورانی کیږی پدی کی دګاونډیو هیوادونو پوره پوره لاس دی ، داځکه چی ګانونډی هیوادونه او امریکا په افغانستان کی دخپلی خپلی خوښی حکومت جوړولو په لټه کی دی ، همدا وجه ده چی ددوی دمسابقی له امله افغانستان دجنګ میدان ګرځیدلی ، تراوسه پوری دافغانستان په باب ګاونډی هیوادونه په یوه پالیسی اتفاق نلری او هریو ځانته ځانته پالیسی غوره کړی او دعملی کولو په لټه کی یی دی ، که چیری دغو هیوادونو دافغانستان په باب عادلانه اومخلصانه دریځ خپل کړی وای او دخپلو ذاتی ګټوپرځای دافغانستان استحکام اوملی وحدت او استقلال ته یی ترجیح ورکړی وای نو بی له څه شك او شبهی به افغانستان له دغسی یوبد حالت سره نه ؤ مخامخ.

. باید چی غربی نړۍ اوګاونډی هیوادونه دافغانستان په باب خپل دغه موجوده دریځ اوپالیسی بدله کړی ،ځکه چی لـه دی لاری دوی کـه یوطرف افغانستان ته تاوان رسوی نوبل خوا

خپلو هیوادونوته هم له تاوان پرته بل څه نشی په برخه کولای ، دافغانانو کومه مینه او همدردی چی ددوی په باب په زړونو کی درلودله هغه ختمیږی اودښمنی احساس پکی راژوندی کیږی ، ددی پرځای چی راتلونکی وخت لپاره ګاونډی هیوادونه دنیك ګاونډیتوب له نعمت نه برخوردارشی ؛برعکس پخپلو کی سره لاس اوګریوان کیږی او یودبل لپاره مشکلات پیداکوی ، هوښیار اوزیرك قیادتونه کله هم ګاونډیان ځانته نه پارروی بلکی دخپل ګاونډ هروخت آرامی او سوله غواړی ځکه چی دګاونډ سلامتیا اوکړکیچ دواړه په یولوی شر اخته کوی،

له هرڅه نه مهمه خبره داده چی دافغانستان جغرافیایی جوړښت داسی دی چی دلته هیڅوك پدی نشی کامیابیدای چی دخپلی خوښی آس وځغلوی ، که یو ګاونډی وغواړی چی دخپلی خوښی نظام یا افراد او ... اقتدارته ورسوی نو بل ګاونډی هیواد ددی په وړاندی متحرك کیږی او دافغانستان دبل قوم یا تنظیم ملاتړ کوی ، افغانستان په مختلفو قومیتونو او ملیتونو مشتمل هیواد دی یو یی هم دا نه خوښوی چی په بشپړه توګه دی یوالحی یوقوم په اقتدار قابض شی .

ګاونډی هیوادونه باید داسې ونګړی چی د قوم ، ژبی اوسمت په نوم افغانان استعمال کړی اوخپلی ګټی پورته کړی، په داسی غلط فکر او پالیسی سره دوی ګټه نشی ترلاسه کولای داځکه چی یوګاونډی هیواد هم نشی کولای چی دڅو تنو جنګی کسانو په پیداکولو سره ټول افغان ولس خپل څنګ ته نژدی کړی ،

له خپلو ګاونډیو هیوادونو څخه دافغانستان مسلمان ولس جدی غوښتنه کوی چی دخپل ګاونډیتوب حقوق او فرایض دی تر سره کړی که دافغانستان سوری سوری او زخمی زخمی زړونو ته ددرمل پټی نه ږدی نوکم له کمه دګاونډیتوب اسلامی او بین المللی حقوق خودی ادا کړی ، مونږ یقین لروچی که چیرته ګاونډی هیوادونه خپل

دروند مسئولیت وپېژنی اوټول دافغانستان دملی یو والی، استحکام او استقلال په نظر کی نیولوسره دیوقوی مرکزی حکومت دقیام لپاره خپله عادلانه او صادقانه مرستی ونه سپموی نو ان شا ءالله چی افغانستان به دامن کور وګرځی ، پدی لړ کی ملګری ملتونه خاص مسئولیت لری چی په افغانستان کی دجنګونو اوبهرنی مداخلو دمخنیوی لپاره جدی اقدام وکړی ، ګاونډی هیوادنه اونور مؤثر قوتونه دی ته اړکړی چی په افغانستان کی له مداخلی نه لاس واخلی او افغانان پرېږدی چی پخپله خوښه دافغانستان سرنوشت وټاکی.

تعرض
دري ورونه په افغانستان کی

د «دمیتري ګایي» او« واسیلي سنیګروف» لیکنه — دخیبر ژباړه

دوه ویشتمه برخه

دتعرض دکتاب یوتن لیکوال واسیلي سنیګروف لیکي : ښه به داوه چي ولیکم چي مونږ افغانستان سره دوستان کړو. خو داحقیقت نه لري. افغانستان کولاي شول چي مونږسره دوستان کړي، ځکه مااورسلان او شیوف په یوه وخت په افغانستان کي دشوروي دلښکرو دتعرض په موده کي دندي درلودي .

رسلان اوشیوف دلښکرو دتشکیل دیوه کنډك قوماندان ؤ اوزه (سنیګروف) په افغانستان کي د«کمسمول ښکایا پراودا» دورځپاڼي ځانګري خبریال وم .

ډېرځلي ددي امکانات ؤ چي مونږ دواړه په افغانستان کي سره وپېژنو، خوکیداي شي دیوشمېر عواملوله امله مونږیوله بل سره مخامخ شوي نه یو .

د ۱۹۸۳ کال سپرلي ؤ چي دمسکو دښاریه مرکز کي زمونږ دورځپاڼي دمرکزي دفتر په شپږم پوړکي ماله رسلان او شیوف سره وپېژندل . نوموړي په دي وخت کي د«فرونزې» دنظامي اکادمي لومړي کورس پاي ته رسولي ؤ، دورځپاڼي مدیریت دشوروي اتحاد دغه قهرمان (رسلان اوشیوف) دعوت کړي ؤ . کله چي نوموړي لوړقشي ځوان مدیریت ته راغي سمدلاسه ني دټولو هغوکسانوسره خپله پېژندګلوي وکړه کوم چي دنوموړي سره په لومړي ځل کتلوکي مخامخ شول . دمدیریت دنوروکارکوونکواوخبریالانوپه ډله کي ماهم دلومړي ځل لپاره ورسره ولیدل، اوله هماغي ورځي راپه دي خوا مونږ دواړه یودبل، دوستان شو، رسلان ځوځلي زما(سنیګروف) دلیدلو لپاره دورځپاڼي مدیریت اوزماکورته راغي اوهمدغه شان زه ځوځلي درسلان دلیدلو پخاطر د« فرونزې» اکادمي لیلي ته ورغلم اودوه ځلي دګروژني په ښارکي دهغه میلمه شوم چیرته چي درسلان کورنۍ ژوند کوي، په یوه سپورتي

سیکشن کي دواړو سپورتي لوبي کولي، ځوځلي دشوروي اتحاد په دننه کي دواړه یوځاي خدمتي ولاړلو اوځیني وختونه به مونږ دواړو دیومسئلي په سرسره جدي خنډه شولو اوتړډېره به موتریخ بحث وکړو. کله چي رسلان د«فرونزې» په اکادمي کي خپل عالي تحصیلات پاي ته ورسول اوددوهم ځل لپاره ئي افغانستان ته ولیږه نوبیا زما اودرسلان ترمنځ خطي اړیکي ټینګي وي او دلیکونو په لېږلو سره به یودبل خبراخیست .

په ټول شوروي اتحاد کي داشیرانو په قوم پوري مربوط د«سلطان یوسفوویچ » او« تماري سلطانئي » کورنۍ وه چي دپنځو اولادونو له جملي

خخه ئي دري زامن هریو آدم ، رسلان او باګودین په افغانستان کي دسرولښکرو دتعرض په موده کي دافسرانو په توګه دندي درلودي . دغه دریو اړه ورونه په افغانستان کي ټمیان شوي دي، اودافغانستان په دننه کي په دوامدارو جګړو کي دګډون کولو له امله رسلان، ادم او باګودین ته ۱۳ نښانونه اومدالونه ورکړل شوي دي. کله چي به د«سلطان یوسفوویچ» زامن له افغانستان نه رخصتي راغلل نونوموړي به له ډېري خوشحالي نه خپله جشني دریشي واغوستله اوپه دي توګه به ئي خپله خوشحالي څرګندوله . « تماري ایسلطانوي» په دي اړه داسي څرګندوني کړي دي : په ۱۹۸۳ کال کي « ادم » ټپي شوی ؤ ، هغه دټپي کیدلو په اړه په لیك کي څه نه ؤ لیکلي . زما زړه خفه ؤ اوپه شپو،شپویه بیداره ناسته وم .

وروسته « ادم » رخصتي راغي، له ډېرخواروالي نه ئي رنګ سپین

تبتیدلي ؤ اودامسا سره به ګرځیده . دټپي کیدو په اړه ئي هیڅ نه ویل . ما « تماري » له هغه نه وپوښتل : «زویه ، ته ولي ګوډ ګوډ کیږي ؟ » . هغه سترګي راواړولي اوراته ویي ویل : «دیوي سهوي په نتیجه کي زه لویدلي یم ».

د«دام » پلار (سلطان) ماته تسلي راکړه ویي ویل : ته ولي تشویش کوي ! یوازي زمونږ اولادونه خوپه افغانستان کي نه دي. هلته روسان ، ګرجستانیان ، ازربایجانیان، ازبکان اونورټول خپلي دندي ترسره کوي ».

خومالیدل چي پلارئي له مانه ورته ډېر په تشویش کي دي رسلان اوشیوف په سالنګونوکي دیوي جګړي په اړه داسي وویل : د ۱۹۸٦ کال داکتوبر دمیاشتي په ۱٦ نیټه سهاروختي داحمدشاه «مسعود » کسانودسالنګ کوتل ته نژدي سنګرونه ونیول اودجګړو څوکوپه سرئي دجګړي لپاره تیاري ونیوه .

په دي عملیاتو کي داحمدشاه «مسعود » له کسانوسره دغربي هیوادونو دیوتلویزیوني کمپني څوتنه تصویر اخیستونکي هم راغلي وو او هغوي هم ددوي په څنګ کي سنګرونه ونیول . داحمدشاه «مسعود » کسانو دغه غربي تصویر اخیستونکي ځکه دلته له ځانه سره راوستي وو چي هغوي دسالنګ کوتل سره نژدي دافغانستان داردو په یوه اکمالاتي کتاریاندي چي کابل ته ئي نفتي موادرسول بریند کاوه او دغوغربیانو ددغي حملي په جریان کي دخپلي تلویزیوني کمپني لپاره تصویرونه اخیستل . ددې حملي دترسره کولو پخاطر دشپي په جریان کي څوسوه تنه مجاهدین دسالنګ کوتل ته نژدي ځاي پرځاي شوي وو اوداکتوبر دمیاشتي د ۱٦ ورځي له غرمي وروسته ئي دجنوبي سالنګ په دره کي په هغه تلونکي کتار باندي ددوکیلومترو په اوږدوالي سخت ګوزار

وکړ ، کوم چي په نفتي موادو باردکابل پرمخ په حرکت کي ؤ .

دیوي سختي راکټي حملي په نتیجه کي دکتارپه بدرګه روان زغرپوش اونورو وسایطو اورواخیست . دروان کتارموټروانانو داور په لمبوکي ځانونه دوسایطو له سیټونو څخه وغورځول اودمختلفو لوریو نه دګولیو هدف وګرځیدل . دجګړي په سیمه کي دسړك دواړو لوریوته پرتي تیزي په تیلو او وینو لمدي شوي .

بلي ! دغربي ژورنالستانو لپاره دتصویر اخیستلو ډېره ښه منظره رامینځ ته شوه او باید هغ ي اوس خپل کارترسره کړي وي .

رسلان څوشبې وړاندي دخپل ورورکي جزوتام سره دسالنګ دکوتل نه دچاریکارو په لاره راکوزشوي ؤ .

هغه ته په دي وخت کي راکټونو دزي ترغوږوشوي اودغرونو په سرئي دتورلوګي لوخړي ... ، کومي چي دوېشتل شوي کتارداوراخیستوله امله پورته شوي وي، هغه سمدلاسه دقوماندي دزرهپوش ٦ عرادومحاربوي ... عرادوټانکونو سره دپیښي ... په لوري حرکت وکړ . کله چي دري کیلومتره وړاندي ورغي هلته ئي ولیدل چي ټول کتارله مینځه تللي ... اودوه موټره دکتارپه لومړي سرکي چپه شوي دي، هغه په دي کارویر خفه شو

پاتې ره مخ ۳۰ ستون

نامه یی درباره تعرض روسها درافغانستان

به کارکنان محترم روزنامه شهادت ،
سلام واحترامات خود راتقدیم میدارم و موفقیت هاي هرچه بیشترتانرا ازبارگاه ایزد متعال خواهانم .

اینك نامه خودرا براي نشرفرستاده ام تاآنرا بدون کم وکاست نشرنمائید .

این نامه دوم بنده است که براي تان میفرستم مگر به نشرنمي رسد نمي دانم که مصروفیت هازیاد است یاخیر .

ازآنروزکه شما در روزنامه شهادت اعلان نمودید که کتابي به نام تعرض روس هارانشرنمودید بنده بسیارخوش شده وبنده مسلسل این موضوع را تابه فعلاً تعقیب مینمایم واین نوشته سند است براي ملت مظلوم وطن عزیزمان که کمونست هاچه فجایع وخیانت هارا به میان گذاشته بود .

وازهرواقعیت هـاي نظامي روس هاوکمونست ها خوب باخبر شدیم که روس ها هرقسم پروگرام هاي نظامي رابالاي وطن عزیز ومجاهدین دلیر وشجاع طرح میکرد .

ودیگردرقسمت موضوع « حامد» خداوند (ج) موفقیت هاي هرچه بیشتر را براي تان نصیب نماید که درحصه روزنامه هاي انگلیسي واردو زبان که متن ترجـمه آن رابه زبان بین المللي افغانستان بـه نشرمیسپارید ودیگر بعضي مضامین راکه شمابه قلم خود به هموطنان عـرض میدارید. ودرآخرهمه کارکنان روز نامــه وزین شهادت همراي حامد درکارهاي روزمره تان موفقیت بیشتر را تمنادارم .

نوت چــند سوال در رابطه به کلیکسون :

درنزد بنده چــند شماره روزنامه شهادت موجود نیست . دوشماره ازسال ۱۹۷۳ ویك شمـاره ازسال ۱۳۷٤ اگردرنزدتان موجود باشـد براي بنده ازطریق روزنامه شهادت آگاه نمائید .

والسلام

عبدالرفیع «عزیزي»
باشنده کمپ نصرت مینه

خواننده گرامي عبدالرفیع عزیزي سلامهاي شـما را وعلیکم السلام میگوئیم اینـکه شمانشرات روزنامه شهادت را ستوده اید ممنونیم سعي داریم تاهمه نشرات مابه نفع هموطنان مسلمان ماتمام شود. درمورد شماره هاي کمبود کلکسیون شما بـایـد عرض شودکه شمامیتوانید باآرشیف روزنامه شهادت درتماس شوید .

جلال آبـاد د سازش لـه لیاری سقـوط وکـړ

د شهـادت ورځپاڼې محترمو کارکونکو

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

محترمو وروڼو: دا زمالمړی لیك دی چې تاسوته ئې درلیږم که راته نشرکړی نوبیاڼه مې هیڅ ارمان په زړه کی نه وی اوستاسو دایمی همکاربه شم .

ماته سوال پیداکیږی چی د جـلال آباد ښاروالی سقوط وکړ د هغـه ځـای اداری سیستم خو داسې وو چې د ټولو ولو اشخاص پکی د جهادی شوری په نوم پرمخ تلل . د جلال آباد ښار دسولی او امن کور بلل کیده د افغانستان د مشکلاتو د حـل ځـای یواځی د جلال آباد ښـارو . او ددغـه ځای واکمنوخوهمیشه د بی طرفی لاسونه په سینه ډبول . نو بیا ځـه چل وشو چی جلال آباد د سترگو پـه رپ کی سقوط وکړ ، زه خو وایم چی جلال آباد پرته لدی چی سازش شوی وی بل هیڅ دلیل نلری . مونږ له چانه هیڅ نه غوارو یو ارمان لرو هغه دا چی په افغانستان کی اسلامی نظام ، سوله ، امنیت او دنل لپاره د جنگ ختمول خدای (ج) دي د افغانستان د مجاهـدو او مظلومو خلکو آرمان پوره کړی . آمین

ستاسو ورور محمد سلیمان

به کارکنان محترم روزنامه شهادت

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

پیروزی هـاي حکومت اسلامی افغانســتان را در مقابل عناصر پلید وبدنام واجنتان غربی طالبان تما ازبارگاه ایزد متعال خـراهــانم وخداوند(ج) کامیابی هـای پی در پی نصیب حکومت اسلامی نماید .

بعد ازگرفتن ولسوالی ازره ولایت به دست طالب ها ی انگلیس وتسلیم شدن حصارك توسط جاسوسان شان حالا بطرف جلال آباد حرکت می نمایند که عده ئي ازقوماندانان به خاطر تسلیم نمودن جلال آبـاد ، ازجلال آباد به پشاور آمدند کـه این آمدن قوماندانان به پشاورتوهین بـه خون شهدای ۱۷ سال ملت مظلوم افغانستان است که به اصطلاح قوماندانان با این عمل بزدلانه شان خیانت بزرگ درمقابل ملت ومردم کردند کـه هیچ فـرد افغان آنرا بخشیدنی نیست.قوماندان صاحبان که در پشاور آمدند دیگرحق حکومت را ندارند و مــا از برادران هریك رئیس جمهور وصدراعظم افغانستان تقاضا می نمائیم که درمقابل طالبان ازهیچ نوع سلاح های ثقلیه و خفیفه دریغ نه نمایند وازطیارات نیزاستفاده نمایند تا این طالبان زنده اند این شکـست خود را فراموش نکند ودرمقابل آنهاجهاد عملی اعلان نمایند و ان شاء الله آن روز دورنیست کــه حکومت اسلامی درافغانسـتان تحت رهبری برادران مجاهد هریك رئیس جمهور استاد برهان الدین و صدراعظم انجنیرحکمتیارصاحب طبق قانون شریعت اسلامی روی کار آید ،

شب یك شنبه ساعت ٤٥-٨ دقیقه ازطریق سرویس پشتو بی بی سی مصاحبه با برادر عزیزمراد داشت وگفته شد که در درگیری کنر به تعداد ٤٠ نفر عساکر پاکستانی کـه یك تن آن افسربزرگ فوج نیـز میباشد توسط مجاهدین دستگیرشده کـه این یك باردیگرمداخله مستقیم پاکستا ن رانشان میدهد هـــر بار که نصیربابر میگوید که دو روزبعد این منطقه توسط طالبان گرفته میشوه به همان روز واقـع میشود ونصیربابر ازمداخله خـو دمنکراست اگرنصیربابر نجومي است پس بگوید که چه وقت او می میرد که شعبده بازی خود را در افغانسـتان شـروع نموده است.طالبان فرستاده نصیربابر هستند که به لباس سفید ولنگی مردم مظلوم افغانستان را فریب میدهند . آنروز دورنیست که تمام شهر های مشرقی تاتورخـم بدست مجاهدین حکومت اسلامی مـا در آید و ازخداوند استدعا داریم کـــه آن روز زود برسد.

بااحترام
حمیدالله

کمونـستان دمجاهـدینو پـه بـدنامـي کـارکـوي

یوه ورځ ته کابل ته تللي وم هلته زمادمکتب خـو کسه ملگري وو هغوي په یو لوي نظامي مرکزیت کي وظیفه درلوده کله چي دغرمي ډوډۍ وخت نژدي شو، مونږ دیوې لوئي طعام خانې خواته حرکت وکړ په دي وخت کي ټول دمجاهدینو صاحب منصبان اودملحدینو صاحب منصبان دطعام خانې محکمې راټول شول زماملگرودمجاهدینوصاحب منصبان اودملحدینو صاحب منصبان راته معرفي کــول زیــاته برخه ئي کمونستان اوکمه برخه ئي دمجاهدینو صاحب منصبانو وظیفې درلودې نوکله چي دروازه دطعام خانې خلاصه شوه زه هلته پـــه ننداره ولاړوم نومایه خپلو سترگو ولیدل چي ملحدینو دطعــام خانې په دروازه کي تمه ټیله شروع کړه اوبورکس چي لړ ضعیف و دهغه پښي له ځمکي اوچته شوي اوهغه ضعیف سړي دطعام خانې په منځ کي ولویده پس له ډوډۍ خوړلو ځخه ملحدینو داسي ویل چي گوري دادمجاهدینو صاحب منصبان دي چي ډوډۍ پسي دروازي ماتوي . او زیاتــره شعبـاتو کي یې ملحدینو اوکمونستانو ته مسئولیت ورسپارلي و نومونږ اوزمونږ ټول مجاهد ملت دوروور انجنیرصاحب گلـبدین حکمتیار ځخه داهیله اوآرزو لرو چي ټول دفاترچي عام تام مسئولیت ئي دملحدینو په لاس کي دي هغه دمجاهدینـو لاس ته ورکړي .چي او بـو اســلامي او قوي دمجاهدینوحکومت جوړشي .

په درناوي

خلکوته سوله اوامـن راوسـتل پـه کـار دی

دشهادت دخپرونې محترمو کارکونکو !

الـسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

محترمو دسلام بعد موروغ صحت غواړم .

محترمو ترلرسپینه خبره ده چي حکومت دعواموا وخلکوله پاره دي نه عوام او خلك د حکومت لپاره چونکه زموږهیواد جنگ ځپلي اواوس دخلکو سره یوازي ډوډۍ پیداکولو اوسولې فکردي نوکه چیري دامسئله وورحل شي نوبه هم اسلامي قانون وضع شوي وي او هم به خلك زیاته طرفداري دحکومت وکړي .

دمثال په ډول که څه هم دکندهارخلکوطالبانوته قدم پرلیمووایه اوهم یې هرارخیزکمکونه وورسره وکړل مگرپس له قدرت نیولو نه یې چي دخلکو پرشخصي ژوند کي ترحد زیات تیري وکړ نوهغه و چي تقریباً دکندهار ٩٥٪ خلك ددوي نه بیزاراومتنفره شول . نوزماپیغام دي نوي حکومت ته دادي چي : دافغانستان خلکو داشل کاله دغم شپې او ورځې تیرې کړي اویه زیاتي خواري او گریاني پاندي راغلي دي نواوس باید دي خلکوته خوشحالي اواستراحت راوستل شي نه دهغوي دپاره استبدادي امرونه ، که نه انجام به یې په بل شان وي . زما دغه پیغام ضرور دنوي حکومت صدراعظم محترم حکمتیارصاحب ته ورسوي .

دافغانانو د ښه ژوند اودایمي سولي په هیله

(س . س . افغان - کویته پاکستان)

په هیوادکی د غم ځپلی ملت ، اتحاد اواخوت ته اړتیا ده

مونږ دافغانستان دیپلوبیلو سیمو اوسیدونکي چي فعـلاً دپاکستان دکونټې پـه ضلع کي هستوگنه لرو هریو، ملاطوره باز (مجاهـد) اسحق زي دجوزجان ولایت دسرپل اوسیدونکي . ماستر عبدالغفار خــان (مدني) دکاکړجمهوري پارټي غــړي دنوموړي پارټي دکــونټي ضـلعي صـدر، عبدالولي خــان کاکړ ، دکــونټي عالموچوك اوسیدونکي، نواب خان هوتك دبغلان ولایت اوسیدونکي عبدالسلام دلوگر ولایت اوسیدونکي استاذ سلطان محمد، باچاخان ، تورجان، نورزي ، عبدالصمد ، اسحق زي ، علي احمد «تارن» ،دکندهار ولایت اوسیدونکي حاجي صدوخان ئیکه علي زي دهلمند ولایت د زمینداور اوسیدونکي اونورو مجاهدینودمهاجرینو انصارو ورونو له

پاتی د٤، مخ د٦، ستون



غلامی هم حد لری

